د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم
﴿ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

یکشنبه ۰۴ ربيع الثاني ۱۴۴۱هـ | ۰۱-۱۲-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۳

اعلاميه

# په بګرام اډه کې د افغانستان د ولسمشر سپکاوي او ذلت
# د يوه مزدور چارواکي برخليک نندارې ته وړاندې کړ

د امریکا ولسمشر د ټاکنو په يوه کمپاينې سفر کې افغانستان ته راغی او د «شکرانې د ورځې» په مناسبت يې له امریکايي سرتېرو سره ليدنه وکړه. په دغه وخت کې د افغانستان ولسمشر د دولتدارۍ او ټولو اخلاقي اصولو خلاف د ټرمپ د ليدو لپاره بګرام اډې ته ولاړ او د خپل ذلت وروستۍ کچه يې ننداري ته وړاندې کړه. د افغانستان ولسمشر په دغه ليدنه کې خپله ټوله هڅه وکړه، ترڅو د چاپلوسۍ له لارې خپله بقا د افغانستان د قدرت په راتلونکي کې تضمين کړي، چې ډېرو خلکو د هغه دا کار تاريخي سپکاوی بللی دی.

د افغانستان ولسمشر په خپله وينا کې په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو سربښندنې وستايلې او په وياړ يې اعلان وکړ چې د خپل حکومت په دوره کې يې د امریکايي ځواکونو تلفات تر ۵۲ تنو پورې راکم شوي دي. خو دا يې ونه ويل چې د امریکايي ځواکونو د تلفاتو د کموالي لپاره د افغانستان خلکو څومره ستره بيه پرې کړې ده او دغه چاره په هېواد کې د تابوت جوړولو، قبر کيندلو او قبرپلورلو د تجارت د غوړېدا لامل شوې ده. په پنځو کلونو کې ۵۰ زره افغان امنيتي ځواکونه د امریکايي جګړې د اور سونتوکي ګرځېدلي او سلګونه ملکيان وژل شوي او ټپي شوي دي.

که څه هم د افغانستان ولسمشر په خپله واکمنۍ کې د امریکا ګټو ته تر خورا لوړ پوړو امریکايي جنرالانو او وينې تويونکو سرتېرو ډېر خدمت کړی دی؛ خو بيا هم د يوه مزدور چارواکي وروستی برخليک ذلت دی، چې د امریکا ولسمشر په بګرام اډه کې په خورا ناوړه ډول د هغه سپکاوی وکړ.

د افغانستان مسلمان خلک بايد وپوهېږي چې ډيموکراسي داسې بې غيرته رهبران روزي چې هېڅ عزت او وياړ پکې نه ليدل کېږي، دوی يوازې د خپل قدرت د بقا په فکر کې وي، ولو که په هره بيه وي. انساني احساس په دوی کې مړ دی، ذره شرم نه لري، غلام او خپلو بادارنو ته ايل شوي دي، حال دا چې باداران يې هېڅ اهميت نه ورکوي. د اسلامي نظام تر سيوري لاندې زړور، باعزته او د امت غمخور رهبران رامنځ ته کيږي، چې د مسلمانانو د وينې، عزت او ناموس دفاع کوي او د اوسنيو چارواکو په څېر د امت پر تنده د ننګ داغ نه وي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايميل پته
info@hizb-afghanistan.org